مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنگروال ۲۰۲۱/۰۸/۰۲

غوریان لــه پارسه تر هندوستانــه

(ضهاک که سهاک یا هوتکیان که غلجیان)

۲۰ مه برخه

د افغانستان «د تاریخي جغرافیي څرنګوالی» د کتاب په حواله یوه پوځي انګرېز «توماس هولډیچ Clonel Sir Thomas Holdich» د غور او غوریانو په اړه داسي ویلي دي:

«د غور نوم په اورېدو د انسان سترګو ته یوه داسي لویه او پراخه ځمکه درېږي چي له هند نه را واخله تر ایرانه او له امو نه تر هرمز پوري غزېدلي وه.»(1

د غوریانو د واکمني کورنۍ هممهاله لیکوال منهاج السراج غوریان د«ضهاک زوزات ګڼي او په دي اند دي چي:

«د دوی نیکونه د فریدون د بریدونو له امله غور ته راغلل او بیا د غور په غرونو کي مېشت او ودان شول او د پېړیو په اوږدو کي دلته استوګن دي.»(2

فردوسي هم د «ضحاک» نوم یاد کړی دی او همدا راز العتبي، ګردېزي، ابوفضل بیهقي، حدود العالم، موسی خورني او په لسګونو نورو د غورستان او غوریانو په تړاو څرګندوني کړي دي.

«دوه تېرونه چي په غرسستان کي واکمن وه، یو یي غوریان دي او بل یي هوتکي غلجیان... د هوتکیانو واکمني دومره پراخه شوه لکه څنګه چي په زېږدي دولسمي پېړۍ کي غوریانو پرمختګ کړی و.»(۳

موږ د مخه د ضحاک یادونه وکړه او پدي تړاو ډېرو لرغون پېژندونکو او تاریخپوهانو لرغونۍ افسانه وي ضحاک، سهاک بللی دی.

ښايي دا همغه ضحاکي تېر نه موخه ساکي وګړي وي چي تاریخ یي د ضحاک په پرتله تت ندی بلکي روښانه او څرګند دی.

«سوریان د خراسان او غور افغانانو یوه تپه وه، چي اوس هم د هرات په بادغیس کي د زور اباد تر شاوخوا د «زوري» په نامه موجود دی. دي کورنۍ تر اسلام د مخه هم د تخارستانو غور، هرات، او خراسان په سیمو کي حکومتونه چلول، د غرشاه په لقب یادېدل. سوریان یوه لرغوني افسانوي شخصیت ضحاک ته منسوب دی.»(۴

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

که چېرې دې خبرې ته تم شو چې ضحاک يانې (ساک، ساکا، ساکي، سوري...) د غوريانو نيکه د فريدون د بريدونو له کبله غور ته راغی... که څه هم دغه اند يو افسانوي رنګ لري. ولې که چېرې دا ومنو چې لرغوني اريايان له بلخ نه د ځنو لاملونو له کبله کوچېدلي دي نو ښايي يو شمېر اريايان غور ته راغلي وي.

دا ډول څرګندونې شوې دي خو تاريخي ارزښت يې يو څه تت برېښي خو کوم څه چې ريښتيا دي هغه دا چې غوريان د غور اصلي اوسېدونکي ګڼلی شو.

د اسلام د سپېڅلي دين له خپرېدو نه د مخه د غور واکمن همدغه سوري ټبر وه چې د ماهوي سوري په نوم هم ياد شوي دي.

د سوري کورنۍ له نامتو کسانو څخه يو هم نوميالی شنسب د خرنک زوی دی. هغه مهال چې د حضرت عمر رضی الله عنه په خلافت کې د اسلام دين پا رس ته راورسېد او ساساني پاچا يزدګرد افغانستان ته راغی په دغه وخت کې له غور نه را واخله تر مروې پورې د واک او ځواک څښتنان همدغه ماهوي سوريان ول چې يزدګرد د دوی د واک په مهال ووژل شو.

د حضرت علي رضی الله عنه د خلافت په مهال شنسب د سيمې يو مخور تن وه چې د منهاج السراج په وينا د خليفه حضور ته لاړ او د اسلام دين يې ومانه.

دا چې د دې سيمې سردارانو د حضرت علي رضی الله عنه د خلافت په مهال اسلام منلی دی نو بيا د غزنوي درباريانو او د هغه مهال ليکوالو څرګندونې د تامل وړ دي. د ساري په توګه کله چې په ۴۰۵ هـ کال غزنوي سلطان محمود په بست، زمينداور او د غوريانو تر واک لاندې په کومو سيمو بريد کوي ابوالفضل بيهقي او حمدالله مستوفي د دغې سيمې وګړي کافران او ملعونان بللی دي.

دلته دوه لاملونه د پام وړ دي: لومړی دا چې دوی غوښتل مسلمانان چې د محمود د لښکر وه دېته وهڅوي چې د دغو خلکو سروهلي او مال يې تالان او جنګيالي يې هيجاني کړي چې د دوی په وړاندې پرته له کوم ترحم نه خونړي بريدونه وکړي. يانې دا يو تبليغاتي جنګ وه نه د کفر او اسلام جنګ. واکمنو د خپلې واکمنۍ د پراختيا لپاره له دغې وسيلې نه ګټه اخېسته.

دويم که چېرې د منهاج السراج د خبرې مانا دا وي چې يوازې شنسب مسلمان شوی دی او نور غوريان لا کافران ول هم د تامل وړ ځکه دی چې د شنسب له (حضرت علی رضی الله عنه) مهال د سلطان محمود او مسعود تر زمانې پورې تقريبا څلور پېړۍ تېرېږي دا څنګه کېدی شي چې سرداران يې مسلمانان ول او اولس يې کافران؟!

دلته دا خبره د پام وړ ده چې د اصطخري د منهاج السراج نظر ته ورته اند لري او وايي:

«د غور وګړي چې زياتره مسلمانان دي ډېر پياړي او ډېر جنګيالي دي، په لوړو او هسکو کلاګانو کې اوسېږي.»(۶

همدا ډول حمدالله مستوفي د دې خبرې ترڅنګ چې دغه وګړي کافران بولي دا هم وايي چې د غور مشر او پاچا سوري نومېده: «دی او زوی يې په جنګ کې ونيول شول او غزني ته په لاره يې زهر وخوړل او جهنم ته لاړ.»(۷

دا ريښتيا ده چې امير محمد سوري د اوږد مهالې جګړې په ترڅ کې د اهنګران په کلا کې کلابند شو او بيا وروسته سيالو ځواکونو ته تسليم هم شو.

ولې نوموړي د هغو وهلو ټکولو او سپکولو وس په ځان کې و نه ليد له خپل کشر زوی «شيش» سره يې په اشاره خدای پاماني وکړه زهر يې وخوړل خو د يرغمل ترخې شېبې يې ترشا کړې.

بيا هم د غور سيمه ييز حکومت رنګ نه شو. د غور خلکو بيا د امير محمد سوري زوی «بوعلي» د هغه ځای ناستی وټاکه ولې يو څه ماليه يې د غزني واکمنو ته ورکوله او هغه هم د وسلو هغه يوه برخه چې په غور کې به جوړېده.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د غوریانو سیمه ییز واک یو د بل پسې د سیمه ییزو واکمنو لخوا خوندي وه. له بوعلي وروسته د ده وراره عباس ور پسې د عباس زوی دوم محمد سوري چې وروسته قطب الدین حسن د ده په ځای وټاکل شو.

د دغه مهال نامتو کس د قطب الدین زوی ملک عزیزالدین حسین (۴۹۲ هـ کال) د غور په تخت کېناست.

که څه هم قطب الدین حسین د غوري پاچاهانو نیکه ګڼل کېږي او دغه واکمن (۴۶۰ هـ - ۱۰۶۷ ز) په غور کې د یوه باثباته دولت بنسټ کېښود خو زوی یې اوښیار او علم پالونکی انسان وه . ده کوښښ وکړ چې د غزني او سلجوقي واکمنو تر مینځ خپل ځان پیاوړی کړي نو ځکه یې له دواړو سره اړیکې ساتلې.

ده د خپلو اووه زامنو په مټ غور د یوې پلازمېنې په توګه وساته وروروو یې د خپلواکۍ لمن تر غزني پورې وغځوله. خراسان، زابل، بامیان، او تخارستان یې د خپلې واکمنۍ برخه کړه او د ملک چارې یې د خپلو زامنو تر مینځ ووېشلې.

قطب الدین محمد د غرشاه د پخواني نوم دب دبه بیا را ژوندی کړه. او د واک د ټینګښت لپاره یې د فېروز کوه کلا جوړه کړه. د ورونو د خپل مینځي اخ و دب له کبله خپه شو او د غزني سلطان بهرام شاه دربار ته پناه یووړه، بهاوالدین سام د ده ورور د غورمندېش نه سربېره د فېروز کوه ښار هم ونیو او په (۵۲۴ هـ - ۱۱۴۹ ز کال) په تخت کېناست. ده د واک په بېلابېلو سیمو کې کلاګانې ودانې کړې او د ګیلان ملک بدرالدین شنسبي لور سره یې واده وکړ چې د سلطان معزالدین محمد سام او سلطان غیاث الدین محمد سام مور کېده.

ملک شهاب الدین خرنک بن حسین، ملک شجاع الدین علي، سلطان سیف الدین سوري، علاوالدین او ملک فخرالدین د ده نور زامن وه چې د غورستان په بېلابېلو سیمو کې پاچاهي کوله.

ولې هغه مهال چې قطب الدین محمد غزنوي سلطان بهرام شاه ته پناه یووړه نه یوازې د افغاني دود له مخې هغه وژغوره بلکې وې واژه.

د قطب الدین ورور سلطان سیف الدین سوري د غور لومړی پاچا دی چې د سلطان لقب یې ځانته غوره کړ پرېکړه وکړه چې له سلطان بهرامشاه نه د خپل ورور غچ او کسات واخلي.

نوموړی سلطان د سیف الدین له وېرې هند ته وتښتېد او سوري د غزني پاچا شو.

د دېرې یخنۍ له کبله چې سوړ ژمی وه سلطان سیف الدین سوري و نه شو کولی چې له غور نه نور ځواکونه را وغواړي نو بهرام شاه پرې بیا برید وکړ او وې واژه.

د سلطان سیف الدین ځای ناستی بهاوالدین سام چې د خپل ورور له وژلو خبر شو د غچ اخستلو لپاره مخ په سلطان بهرام شاه د یو لوی لښکر سره را روان شو خو د غزني په ګیلان کې ومړ.

ولې لکه څرنګه چې سلطان سیف الدین د غور تخت بهاوالدین ته سپارلی وه دا رنګه ده هم خپل ځای ناستی علاوالدین حسین ټاکلی وه.

(نوربیا)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ